د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

جمعه ١٦ ربیع الثاني ١۴۴١هـ ٢٠١٩-١٢-١٣م گڼه: ح.ت.افغ ١۴۴١/٠۵

مطبوعاتي اعلامیه

# امریکا په افغانستان کې خپله ماتې د سترو دروغو تر شا پټه کړې ده

واشنګټن پوسټ ادعا کړې چې د افغانستان د جګړې په اړه یې ۲۰۰۰ پاڼې محرم اسناد تر لاسه کړي چې په افغانستان کې د تیرې ۱۸ کلنې جګړې واقعیت افشا کوي. د دې اسنادو محوري موضوع دا ده چې د امریکا ولسمشرانو، وزیرانو، ډیپلوماتانو او جنرالانو د افغانستان د جګړې په اړه حقیقتونه پټ کړي او د امریکا خلکو ته یې دروغ ویلي، تر څو خپله ناکامه جګړه بریالۍ وښیي.

که څه هم د دې اسنادو افشا کول، د افغانستان په هکله د امریکایي بنسټونو د خپل منځي سیالۍ یوه برخه نندارې ته وړاندې کوي، مګر موخه یې دا ده چې پر امریکایي نظامیانو باندې فشار راوړي ترڅو د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې له خبرو اترو سره مرسته وکړي. خو دا راپور د امریکا د سیاست یو مهم اړخ بربنډوي، هغه دا چې دروغ، دوکه او د حقیقتونو پټول د پانګوالي سیاست نه بیلېدونکې برخه ده او امریکا چې ددغې ایډیالوژۍ مخکښه لیږدوونکې ده، یاد مسایل یې تر ټولو ښه تمثیل کړي دي. ځکه د پانګوالۍ ایډیولوژۍ د یوه مشهور رهبر په وینا؛ د یوه دروغ د پټولو لپاره باید زر ډوله نور دروغ جوړ شي.

پانګواله-ډیموکراسي د سیاست ډګر د اوبو هغه حوض ته ورته بولي چې له ورګډېدو وړاندې باید لومړی خپل د ارزښتونو، اخلاقو او صداقت لباس له تنه لرې کړي او په پراګماتیک ډول پکې لامبو پیل کړي. هو! د امریکا سیاست یو ماکیاولیستي سیاست دی چې دوکه، وحشت، جنایت او له عامه افکارو سره لوبې، پکې ستر مهارت او لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

امریکا له هماغه لومړي سره چې د افغانستان د اشغال اراده یې وکړه، لومړی ګام یې له سترو دروغو سره تړلی و. له ترهګرۍ او مخدره توکو سره مبارزه، د فساد له منځه وړل، ملت جوړونه او داسې نور هغه لوی دروغ وو چې د افغانستان اشغال یې ور باندې توجیه کړ. په داسې حال کې چې د وخت بهیر او د دوی خپلو ژبو د دغه ښکېلاکګر او جنایت کاره موجود زر-رنګي او نفاق بربنډ کړ. لکه څنګه چې په دغه ریوټ کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د پخواني استازي جمیز ډابینز مرکه د امریکا نفاق په ښه توګه بربنډوي: "موږ بې وزله هیوادونه نه اشغالوو، ترڅو هغوی شتمن کړو، موږ په دکتاتوریو باندې برید نه کوو ترڅو هلته ډیموکراسي واکمنه کړو؛ بلکې موږ په بلواګرو او ناآرامو هېوادونو برید کوو، ترڅو هلته سوله راولو او هغه څه چې روښانه دي، موږ په افغانستان کې په دغه ماموریت کې ناکام شوي یو."

په پایله کې، د افغانستان مسلمان ولس باید دا درک کړي وي چې؛ هغه هیواد چې د راکړې ورکړې او سیاست بنسټ یې له افغانستان سره په دروغو، فریب او جنایت باندې ولاړ وي، په ټنده یې باید د نفاق ټاپه ولګول شي؛ نه د ستراتیژیک ملګري. په تیرو ۱۸ کلونو کې د امریکا ژمنو له دروغو او غولولو پرته بل څه له ځان سره نه لرل. د فساد او مخدره توکو د محوه کولو پروني دروغ، د سولې د ټینګښت او د جګړې د پای ته رسولو د سبا له دروغو سره هیڅ توپیر نه لري.

نو د افغانستان مسلمان ولس باید د دروغ پالې ډیموکراسۍ او د هغې د اشغالګرو لېږدوونکو پر وړاندې ودریږي او د سولې په شان په امریکایي پروسو کې له ورګډېدو څخه ځان وساتي، ترڅو امریکا د هغې خپل دروغ پخپله تباه کړي او د پخواني شوروي اتحاد په شان، د افغانستان خلک د امریکا د ماتې د جشن ورځ هم په خپله کلیزه کې شامله کړي. دا چاره هغه وخت ممکنه ده چې د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس د چارو واګې له اشغالګرو څخه په خپل لاس کې واخلي او د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ دولت رامنځ ته کړي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**